دپیمان شهادت بستیم ناگسستنی
تابرمردم کابل پیام ببرید ...
شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
(٤) صفحه
شمارهٔ (۱۰۵۵) سال هژدهم شمارهٔ (۱٤۲) دوشنبه (۱۸)جدی ۱۳۷٤ هـ .ش (۱۸) شعبان المعظم ۱٤۱٦ هـ . ق (۸) جنوری ۱۹۹٦ م

همسرجنرال ضیاءالحق وفات یافت

اسلام آباد – ۱۷ جدي :
شفیقه ضیاء الحق خانم مرحوم جنرال ضیاء الحق ومادر اعجازالحق معاون اول مسلم لیگ بعدازبیماري دوامداري درلندن وفات یافت .
قرارگزارش منابع خبري پاکستان مرحومه ازمدت چهار ماه به اینطرف درشفاخانه گرامویل لندن تحت تداوي قرار داشت . موصوفه به بیماري زیابیطس یعني مرض شکرمبتلا بود وچند روز قبل بنابرهدایت دکتوران معالج یك پایش نیز قطع گردیدولي باآنهم وضع صحي وي بهبود نیافت .
دراین گزارش گفته شده که جنازه مرحومه روز یکشنبه به کراچي آورده شدوامروزدوشنبه تاریخ هشتم جنوري درراولپندي بخاك سپرده خواهد شد .

وروړحکمتیاردهیواد دیوشمیر ولایتونو داستازو سره وکتل

په دغو کتنو کی په روانو حالاتو هر اړخیزی خبری شوی دی

جلال آباد – دمرغومي ۱۷ مه :
دهیواد دیوشمیر ولایتونو سپین ږیرو اوقومي مشرانو دورور حکمتیار سره ولیدل،
دحزب اسلامي دامارت سکرتریت شهادت ته وویل چي : دحزب اسلامي امیر وروړحکمتیار ورمه ورځ له غرمي مخکي دننگرهار دولایت په لومړي ډېر قول اردوکی دپکتیا دولایت اودنوموړي ولایت دڅاځیو د ولسوالي د سپین ږیرواوقومي مشرانو سره ولیدل . ددغي کتني په ترڅ کي ورور حکمتیار قومي مشرانو او سپین ږیروته دهیواد په روانوحالاتو اوږدي او اړزښتنا کي خبري وکړي . همدغه شان قومي مشرانو اوسپین ږیرودخپلوسیمه ایزو ستونزو په اړه دورور حکمتیار سره خبري وکړي چي د ورور حکمتیار لخوانه ورته دمرستو وعده وشوه.
خبرتیاتوي چي : همدغه شان دهیواد دروانو حالاتوپه اړوند ورمه ورځ ورور حکمتیار په لومړي ډېرقول اردوکي داحمدزیو دقومونودمشرانو او سپین ږیرو سره وکتل . ددغي کتني په ترڅ کي ورور حکمتیار د هیواد په روانو حالاتومشرانواوسپین ږیرو ته تفصیلي خبري وکړي .
ددغي کتني په ترڅ کي داحمدزیو دقومونومشرانواوسپین ږیرو یوځل بیا په خپله پخواني ژمنه ټینګاروکړ چي دتېروخت په څېربه دحزب اسلامي دشرعي اواصولي تګلاري څخه به په ټینګه ملاتړوکړي .
خبرځاي دیوبل خبرله مخي ریوټ راکوي چي ورور حکمتیار ورمه ورځ په لومړي ډېر قول اردو کي دکونړونو دولایت دجهاددامیرمولوي فقیرالله ترمشري لاندي (٤)مخ

هغوي خوداغواړي لکه چي څنگه په خپله کافران دي هماغسي تاسي هم کافران شي ترڅوچي تاسي اوهغوي ټول سره برابرشي، له دي امله له هغونه هیڅوك خپل دوستان مه نیسي ترڅوچي هغوي دخداي (ج) په لارکي هجرت ونه کړي اوکه هغوي له هجرت نه منع راوړي نوچیرته یې چې وموموي ويې نیسي اوویې وژني اوله هغوي نه هیڅ یو خپل دوست اومرستندوي مه ګرځوي .(النسا – ۸۹)

اکثرفعالیت های خصمانه علیه مسلمانان رایهودی ها رهبری می کنند

تاپایان قرن جاری ،اسلام بعداز عیسائیت بزرگترین مذهب درامریکا خواهد بود

اسلام آباد – ۱۷ جدي :
بااختتام قرن جاري درامریکا اسلام بعداز عیسائیت بزرگترین مذهب درامریکا خواهد بود.
مطابق گزارش منابع خبري پاکستان به نقل از روزنامه نیویارك تایمز هم اکنون جمعیت مسلمانان نسبت به پیروان فرقه عیسوي پروتستانت ۱.٦۲ فیصد بیشتربوده تعداد مسلمانان در امریکا رویه افزایش است . درخبرگفته شده که این افزایش باعث تحریك حسادت هاوتعصبات نیز شده است چنانچه درسال گذشته پنج باب مسجد مسلمانان ازطرف عیسوي هاي متعصب طعمه حریق گردید .
درگزارش آمده است که یك سازمان محافظ حقوق اقلیت هاي مذهبي بسال گذشته (۲۲۲) مورد واقعه حمله برمسلمانان راثبت کرده است وهدف ص (٤)

ډاکترغیرت «بهیر» اعجازالحق ته د وروړحکمتیارتعزیتی پیغام ورساوه

اسلام آباد – دجدي ۱۷ مه :
په اسلام آباد کي دحزب اسلامي افغانستان ددفترمسؤل ډاکترغیرت «بهیر» دپاکستان دپخواني جمهور رئیس دمرحوم جنرال محمد ضیاء الحق زوي اوددي هیواد دپارلمان غړي اعجازالحق ته دهغه دموردمړینې له امله دحزب دامیر ورور حکمتیار تعزیتي پیغام ورساوه .
دشهادت خبریال لیکي چي په پیغام کي دمرحومي شفیقه ضیاء الحق لپاره دمغفرت اودوارثانو لپاره یې دجمیل صبردعاشوي ده .

پولیس اسلام آباد لست افغانهای بازداشت شده رانشرمی کند

گرفتاری افغانها دراسلام آباد ادامه دارد

اسلام آباد – ۱۷ جدي :
مقامات مسؤول پولیس اسلام آباد گفته اندکه دستگیري افغان هاي مقیم اسلام آباد همچنان ادامه دارد .
روزنامه نواي وقت به نقل قول از حق نوازکیاني یك افسرعالي رتبه پولیس اسلام آباد گزارش میدهد که پولیس اسلام آباد به آنعده اتباع خارجي که میخواهند بطورغیرقانوني دراسلام آباد اقامت داشته باشند اجازه نمي دهد . این افسر پولیس گفته است که درجمله مهاجرین افغان کساني هم شامل اندکه از آغازهجرت به پاکستان تاالحال صرف اجازه نامه گشت وگذار در پشاور راداشته اند درحالیکه دراسلام آباد سکونت دارند . ص (٤)

داستاد "سیاف" اوجنرال افتخارکتنه غیرمهمه اوتشریفاتی وه

دکابل اواسلام اباد په اړیکو به هیڅ ځانګړی تاثیر ونکړی

کتنه داستاد "سیاف" په غوښتنه شوی ده

پاکستان پوهیږی چی استاد سیاف دکابل اداری د دریځ په ټاکلو کی نقش نه لری

دهغه دزیاتی غوښتنی باوجود ، پاکستانی هیئات شمشاد ته ورنه غی

پیښور– دجدي ۱۷ مه :
دشهادت ځانګړي خبریال ته یوي خورامعتبري منبع وویل چي دپاکستان مهمي اداري دتېري جمعي په ورځ په لنډي کوتل کي داستاد«سیاف» اوپاکستان د آي، ایس آي دادارې دمرستیال تورن جنرال افتخار ترمنځ لیدنه دهیڅ راز اهمیت ورنه بولي .
منبع وائي چي په کتنه کي په موضوعاتو جدي بحث نه دي شوي ، بواځي په ځینوبرخوکي داستادسیاف له خوا څه ګیلي مطرح شوي چي دآي ،ایس آي مرستیال دټولو پیښو او اقداماتو اودهغوي دعواقبو پره دکابل په اداره ورواچوله .
منبع زیاته کړه چي استاد سیاف پخوا هم له پاکستانیانو څخه غوښتي وچي غواړي پاکستان ته راشي خواسلام آباد ځواب ورته داوچي که دخپل کمپ دلیدولپاره راځي سمه ده اوکه درباني داداري اوائتلاف په نمایندګي راځي بیامعذرت غواړي .
منبع زیاته کړه چي استاد سیاف (٤)مخ

ارگ دتوغندیوترګوابښ لاندی دی

څو ورځي دمخه دولاجان وثیق موټر دارګ دننه په بارچو ولګید

کابل :
له کابل نه راغلي ریپوټونه وائي چي په کابل کي دجمهوري ریاست ماڼي دطالبانودتوغندیو ترګوابښ لاندي اویه تیرو ووځوکي څوتوغندي دنوموړي ماڼي په انګړکي ولګیدل .
ریپوټونه وائي چي په ووروستي برید کي دکابل اداري داطلاعاتو اوکلتور وزارت د اداري مرستیال مولوي ولاجان وثیق موټرچي په ارګ کي ولاړو دتوغندیو په بارچوویجاړشو .

ربانی خواستار تدویرشورای مشورتی ملی شد

کابل – ۱۷ جدي :
رباني رئیس اداره کابل خواستار تدویر شوراي مشورتي ملي یاحل وعقد براي تعیین زعامت آینده افغانستان شد .
به گزارش رسیده ازکابل رباني رئیس اداره کابل دراستاي موضعگیري انعطافي خود روزگذشته ضمن صحبت درجمعي از مردم در کابل باردیگر از تشکیل شوراي حل وعقد بنام شوراي ملي یاد آورگردید .
رباني که سه سال قبل چنین شورا دایرنموده بود درآن خودرا بنام کاندید ریاست دولت مطرح وبااعمال فشار ودادن رشوت به اعضاي شورا به صفت رئیس جمهوري نصب گردید اکنون باردیگر درصدد جورکردن چنان شورا گردیده است .
رباني درسخنان خود مدعي شده که این کار به همکاري شوراي ننګرهاروااحزاب جهادي صورت میگیرد وبراي هرحزب وقوم درین شورا سهم مناسب داده خواهد شد . ص (٤)

ارتش امریکا خواستار استعمال نوع خاص ماین است

امریکا ستراتیژی خود را با تولید وکاهش ماین درسراسر جهان تغییر می دهد

صلیب احمر امریکا مي گوید دراین رابطه مساعي اي را براه انداخته که توسط سه صدگروه درچهل کشورجهان عملي خواهدشد . که هدف ازاین مساعي، کاهش واستعمال ماین درجهان است .
گزارش خبرگزاري ها حاکیست یکصدملیون ماین دربیش ازشصت کشور جهان فرش گردیده ودرهرماه سه هزارنفر به اثراصابت وانفجار ماین مجروح ویاکشته مي شوند.
این موضوع دربوسنیا هرزگوینا زیادترمورد توجه قرارگرفته که عساکر ص(٤)

دننگرهار د والی حاجی عبدالقدیرپه میلمستیاکی :

مولوی خالص ، استاد سیاف ، قاضی "وقاد" استاد واحدی ،استاد فرید اومحمدشاه فضلی ګډون وکړ

دانجنیر محمود ، فضل حق مجاهد اواستاد سازنور ، نه ورتګ پوښتنی راولاړوی

سرخرود – دجدي ۱۷مه :
له جلال آباد څخه دشهادت خبریال ریوټ راکوي چي پرون د ننګرهار دوالي حاجي عبدالقدیر له خوا په سرخرود ولسوالي کي دنوموړي په کورکي یوه میلمستیا شوي وه چي پکي مولوي محمدیونس «خالص» ،استاد «سیاف»، قاضي «وقاد» ، دلغمان والي استاد عبدالله جان «واحدي»، پخواني صدراعظم استاد «فرید»، دحرکت انقلاب اسلامي مرستیالانو مولوي محمدشاه، فضلي، (٤)مخ

په کندز کی دحزب اسلامی داجتماعی خدماتو په لړکی :

د دوو زرولکوافغانیو په لګښت دسړك دجوړولو کار پیل شوی دی

کندز – دمرغومي ۱٦ مه :
دحزب اسلامي افغانستان داجتماعي خدماتو په لړکي دکندز د ولایت دچهاردري په ولسوالي کي دیوسرك دجوړولو کارپیل شو .
دنوموړي ولایت څخه دحزب اسلامي یوي مسئولي منبع شهادت ته په خپل ریوټ کي وویل ددغواجتماعي خدماتو په لړکي چي دنوموړي ولایت دچهار دري په ولسوالي کي دشلوورځوراهیسي پیل شوي تراوسه پوري څه دپاسه پنځه لس کیلومتره سړك جوړ او داستفادي وړګرځیدلي .
په ریوټ کي راغلي دغه سړك چي د نوآباد اوشنبه بازارڅخه پیل اودچهاردري ولسوالۍ پوري امتداد لري دوه زره لکه افغاني پانګه ورته په پام کي نیول شوي ده .
ریوټ زیاتوي ددغي پانګي نه پنځه سوه لکه په نوموړي ولایت کي دحزب اسلامي جهادي امیر سیدحمید الله آغالخوا ورکړشوي او په مصرف رسیدلي .
دیادوني وړده چي ددغه سړك دجوړیدوسره به نوموړي ولسوالي دبدخشان ،کندزاوتخاروولایتونه دایرګنك اوآبادان ددښتي له لاري سره دمزارشریف (٤)مخ

معصوم افغاني دیوي مرکي په ترڅ کي وویل :

دنیمروز په جګړه کي دګڼلوروتنو ایرانیانو مړي دجګړي په ډګر کي پاتي وو

ایران ددی صلاحیت نه لری چی دطالبانو اوکابل اداری ترمنځ سوله راولی

کویټه – دمرغومي ۱۷ مه :
په کندهار کي د طالبانو او ایراني هیئات ترمنځ شوي مذاکرات پاي ته ورسیدل .
په دي اړوند تیره شپه دطالبانو ویاند معصوم افغاني دیوي تیلفوني مرکي په ترڅ کي شهادت ته وویل چي : کندهارته دایران دراغلي هیئات سره دطالبانو دعالي شورا سرپرست محمدحسن «آخند» لیدنه کړي ده او دایراني هیئت سره ئې خبري کړي دي .
معصوم افغاني وویل : محمدحسن آخند دخپلي لیدني په ترڅ کي ایراني هیئت ته ویلي دي چي : دایران حکومت ددي صلاحیت نه لري چي دکابل اداري اوطالبانو ترمنځ سوله راولي، ځکه چي ایران دافغان بحران په اړه همیشه یوطرفه کردار اداکړي دي اوتل ئې دکابل اداري له پلویانو سره مرسته کړي ده .
محمدحسن آخند دخپلوخبرویه ترڅ کي ایراني هیئت ته زیاته کړي ده چي : دجنوب غرب په جګړوکي دایران پوځیانو له خپلو دړلدو وسلو اوپوځي وسایطو سره دکابل اداري دپلویانو سره ملاتړ کړي اوهیڅ څوک وه چي موږ سره یې داسي شواهد شته چي دایراني پوځیانو ددغي (٤)مخ

برخی مطبوعات پاکستان دیدار استاد سیاف باهیئت پاکستانی راتغییرپالیسی این کشور درمقابل ادارهٔ کابل تلقی کرده اند

قاضی همایون باجنرال عبدالرشید دوستم ملاقات کرده ودرنظردارد با رهبران سایر احزاب نیز ملاقات کند

اسلام آباد – ۱۷ جدي :
حکومت پاکستان فیصله کرده است تادرپالیسي خود درقبال مسأله افغانستان تجدیدنظرکند .
روزنامه نواي وقت به نقل ازمنابع موثق دیپلوماتیك گزارش میدهندکه به همین ارتباط قاضي همایون سفیر پاکستان درافغانستان دراین اواخر باجنرال عبدالرشیددوستم رهبر جنبش ملي درشهرمزارشریف پیرامون اوضاع جاري افغانستان دیدار و گفتگو نموده است ص(٤)

بي نظیر بوتو صدراعظم پاکستان :

عنقریب صلح در افغانستان تامین می شود

کشورهای که نمیخواهند پاکستان باجمهوریت های اسیای میانه روابط تجارتی داشته باشد جنگ درافغانستان راادامه میدهند

بي نظیربوتو صدراعظم پاکستان اظهارداشته برخي کشورهاکه نمیخواهند پاکستان باجمهوریت هاي آسیاي میانه روابط تجارتي داشته باشد .
جنگ درافغانستان را براه انداخته وآنرا ادامه میدهند .
به گزارش روزنامه نیوز صدراعظم پاکستان که درمراسم افتتاح بخشي از شاهراه « اندس» درمنجهند صحبت مي کرد، گفت : بعداز پایان جنگ سرد (٦) جمهوریت آسیاي میانه به استقلال رسید. این کشورها که زادگاه برخي علماي بزرگ اسلام اند درطول قریب به یك قرن روابط شان باجهان اسلام قطع بود. سران این کشورها باشرکت درکنفرانس «ایکو» دراسلام آباد تصامیم لازم درتوسعه اقتصادي اتخاذ نمودند وپاکستان به عنوان یك کشور مهم درمنطقه خواهان روابط تجارتي باکشورهاي آسیاي میانه ، جنوب شرق آسیا وحوزه خلیج بوده است.
بي نظیربوتو گفت : جنگ درافغانستان براه انداخته شده زیرا برخي ص (٤)

محمودمستیری نمایندهٔ سازمان ملل عنقریب واردکابل خواهد شد

کابل – ۱۷ جدي :
محمودمستیري فرستاده خاص سازمان ملل متحد درامورافغانستان عنقریب وارد کابل خواهدشد.
به گزارش خبرگزاري ها یك منبع سازمان ملل متحد درکابل گفته است محمودمستیري که چندي قبل غرض شرکت درجلسه سالانه سازمان ملل وارائه گزارش کارش به آن سازمان عازم نیویارك شده بود قصد دارد دراسرع وقت وارد کابل شده وفعالیت هاي صلح جویانه اش رادوباره آغازنماید .
به گزارش منابع خبري ایران مشاورعالي رتبه نظامي سازمان ملل متحد درکابل روزگذشته باسرپرست به اصطلاح وزارت خارجه کابل ملاقات کرده است دراین ملاقات اوضاع جاري ص (٤)

حملهٔ راکتی برشهرکابل (۳۲) کشته وزخمی برجای گذاشت

کابل – ۱۷ جدي :
درحمله راکتي روزیکشنبه برغرب شهرکابل حداقل ۳۲ نفرکشته ومجروح شدند.
گزارش هاي رسیده ازکابل حاکیست که دیروز درحدو بست موشك در مناطق غرب کابل اصابت کرده شش کشته وبیست وشش مجروح برجاي گذاشت .
درگزارش گفته شده که ٦ زن و۷ کودك شامل مجروحین مي باشند . اداره کابل مسئولیت این حملات راکتي رابرگروه طالبان نسبت داده اند واظهار داشته اند که این حملات موشکي ازسمت جنوب یعني جائیکه طالبان موضع گرفته اند فیرشده است .
قابل یاد آوریست که این حملات موشکي زماني صورت میگیرد که ازیکطرف نمایندگان اداره کابل تحت ریاست منشي مجید معین وزارت داخله اداره کابل درقندهار بانماینده گان گروه ص(٤)

بمن چه گفتن وازکنارمصایب ردشدن

وجائب افراد مسؤول وعاقبت اندیش

* به این ارتباط مطلبی درسرمقاله مطالعه بفرمائید

[illegible]

شهادت

ارگان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
موسس: انجنیرحکمتیار
ناشر: ریاست ارشادوفرهنگ
سرمحرر: محمد نذیربشارت
تحت نظر هیئت تحریر
تلیفون: ۲۵۶۳۷۸۹
آدرس پستی: ۱۰۳۶ یونیورستی تاون -پشاور

بمن چه گفتن وازکنارمصایب ردشدن

ادای مسؤولیت دربرابر نقایص وآلام، صفائی وصیقل روح راافزایش میدهد ونیروی مقاومت انسان را بالا میبرد

دوسه باردیگرنیز این موضوع را بعرض رساندیم که برخور با قضایاوپدیده هادرآغازوانجام هرکاري توام بااحساس وانگیزه هاي عاطفي است . مرام اینکه ، جوانب شامل دریك کارویایك قضیه، درآغازویاانجام، میخواهند حسن نیت ، گذشت واخلاص خودرا دربرابرهم ابرازنمایندوازطرح وارایه مشکلات ومصایبي که ممکن است درجریان کارپیش آید، اغماض نمایند. همین موضوع باعث میشود بغرنج هاومشکلات عمده درجریان کارهمیشه ، سرجاباقي بماند وتحول وتغیري دراوضاع روي ندهد .

بطورمثال وقتي مسؤول ،مدیر ویاموظف تازه ایکه مقرر ویامرخص میشود، حالات طوري پیش مي آید که همه حسن نیت، گذشت وایثار نشان میدهند. اگر مسؤولي که رخصت شده درکارش موفق هم نموده باشد، ازکارکردگي ، اوتعریف میکنند وحالت «رضاء» را درخودنمایش میدهند . همینطورمسؤولیکه تازه مقررشده بدون اینکه کسي ازمشکلات ومصایب کارچیزي بگوید ویا درمورد کارآئي وصلاحیت اواظهارنظرنماید، درقالب کلمات ، مقدم او میمون پنداشته میشود . مرام این نیست که در آغازوانجام کارها فضایي حسن نیت وخوشبیني براوضاع حاکم نباشد . هدف این است که فضاي حسن بشکلي نباشد که مانع اظهارحقایق شود ودرروال کارها کندي وناهماهنگي بیاید. نقص عمده' برخورد عاطفي باکارها این است که نقایص موجود درجریان کارهمچنان باقي مي ماند وبراي اصلاح ونوآوري قدمي گذاشته نمیشود .

درزمانیکه خدمت سربازي وعسکري درافغانستان عام بود بسیاري دیده اند وبخاطر دارندکه سربازان درجریان خدمت مشکلات زیادي رامیدیدند ازبرخورد ظالمانه، اکثرصاحب منصبان ومسؤولین بجان میرسیدند . بسیاري سربازان حتي دوره مکلفیت راتمام ناکرده پابفرارمیگذاشتند وبنابر ظلم وروابط ناهنجاري که دراردوگاه هاي عسکري وجود داشت، مردم به بهانه هاو رشوه هاي سنگین میخواستند ازتکلیف جبري خودرا فارغ نمایند . بااین همه مصایب ،ولي زمانیکه سربازان « ترخیص» میشدند، تحت همان روحیه عاطفي که ازآن نام بردیم، دسته دسته براي خداحافظي واخذ دعاي صاحب منصبان ومسؤولین ظالم ورشوه خوار، صف میکشیدند ویااینکه درحق شان آن همه جوروجفاصورت گرفته بود، ازآن مسؤولین وصاحب منصبان عذرخواهي وطلب عفوبخشش میکردند!

این برخورد عاطفي درحین ختم دوره سربازي ،باعث میشدکه ظلم وجبرهمچنان معمول ومجري بماند ودر روابط افسران وسربازان تغییرمطلوبي حاصل نگردد .

متوجه ساختن مسئولین بخطاها واشتباهات شان وهمچنان تقویت دادن وتشویق مسؤولین دراقدامات مثبت ومفید یکي ازوجایب واوصاف افرادي است که درقضایا باچشم بازومسؤلانه عمل میکنند. افراد مسؤول وعاقبت اندیش تنها باصورت ظاهرقضاباخودراقناعت نمیدهند وهیچگاه « بمن چه وگفته وازکنارناروا وناملایمات ردنمیشوند .

ولي بسیارمردم به این عادت کرده اندکه ازبرابر مصایب وناروا بزودي وآساني چشم بپوشند ومسؤولیت خودرا درراه بهترشدن امور فراموش نمایند . مردمیکه احساس قوي دارند ومکلفیت هاي خودرا درقبال مسایل درك میکنند ازپهلوي بدي هابدون اتمام حجت ورفع مسؤولیت رد نمیشوند . یکي ازاوصاف بندگان شایسته وبرگزیده خداوند این است که آنهادربرابر ناروا ودربرابر ناحق ساکت مانده نمیتوانند وچشم بسته ازپهلوي ناملایمات ردنمیشوند .

غالب افراد ازاین ناحیه تشویش دارندکه اگردرجریان وارسي وانجام یك سلسله امور، روي نقایص ومشکلات عمده تماس بگیرند ویاهمکاران ومسؤولین درمورد کمبود ها وکاستي ها صحبت نمایند ورروي علل اصلي ناملایمات تماس بگیرند، آزردگي هابوجود مي آید و اوضاع بدتر وخرابتر میشود . اما درحقیقت ،صمیمیت وحسن اعتماد درروابط افراد زماني جان میگیرد ودرجریان کار هازماني حرکت وپیشرفت نمودار میشودکه مسؤولین مشکلات شانرا بي غرضانه وباصراحت دربرابرهم اظهارنمایند .

دراداره وارگاني براي «ترغیب مسؤولیت ها» کاري صورت نمیگیرد وراجع به خوبي ها وبدي ها ،راجع به پیروزیهاوناکامي ها اظهارنظرواتمام حجت بموقع لازم صورت نمیگیرد این اداره وارگان چشم ترقي وتکامل رانمي بیند وبشکل مرداب ازجریان حرکت بازمي ایستد ومحل فساد والجمادمیشود.

اینطورهم نیست که ازکنارمصایب ردشدن و درخصوص رفع مشکلات یك اداره چي ویایك اداره اتمام مسؤولیت نکردن تنها نقصش به همان اداره ویابه همان مدیرمیرسد ودامن خود فرد پاك میماند، شخصي که دربرابر مصایب وآلام به نحوي احساس مسؤولیت نمیکند یعني براي رفع آن کاري وياحرکتي راانجام نمیدهد، صفایي وصیقل روح خودرا رفته رفته ازدست میدهد وبراي پذیرش بدي هاومحکومیت هامستعد وآماده میگردد . برعکس باادای مسؤولیت جلایش روح زیادمیگردد ونیروي مقاومت انسان دربرابر ناروا بالامیرود .

له فرصت نه باید په محتاطانه توګه ګټه واخیستله شي

دوهمه برخه — **استاد قریب الرحمن « سعید »**

کومي لیدني کتني چي دکابل دهیئتونو او دهماهنګي د شورا دغړو تنظیمونو ترمنځ تر اوسه پوري شوي ،داسي کومه نتیجه ځان پسي نلري چي حساب پري وکړل شي . که څه هم په دغه لیدنوکتنوکي به داستاد رباني هیئتونو دهغه داقتدار ددوام پــه خاطر خپلو مخالفینو ته مختلف وړاندیزونه کړي وي، خوداستاد مخالفین چــي د استادنه ئي دحکومت ساحه څــو برابره زیاته ده ، دهیواددبحران حل په دغه وړاندیزونو کي

انجنیرحکمتیار

ترهغي چي استاد دحکومت دڕئیس په ځیرموجودوي نه ویني . دا ډول وړاندیزونه کیداي شي چي دتنظیمونو له پاره ځانګړي ګټي ولري خو دولس دبحران دحل سبب نه ګرځي، په همدي اساس دحزب اسلامي امیر په خپله یوه ویناکي ویلي چي : « زه تولوته وایم چي په سازشونونه کیږي ، راځي چي په اخلاص دهیواد دبحران حل ته ملاوتړو» . خودښاغلي حکمتیار دویناوڅخه داسي

> کیداي شي چي ښاغلي مسعوږ هم اوس داحقیقت درك کړي وي چي په یواځي توګه دحکومت کول ورته اسان کارنه دي دبله اړخه هغه به اوس داهم درك کړي وي چي په اقتدارکي پاته کیدل خوبوطرف امادمخالفینودنظامي بري په صورت کي ئي د تنظیم بقا هم په خطرکي لو بېږي

معلومیږي چي تراوسه پوري دکابل دړژیم دهیئتونو اودهماهنګي دشورا ترمنځ په روانو خوهغتوکي کوم دذکروړپرمختګ نه دي شوي .

ددي ترڅنګ دهماهنګي دشورا اودطالبانو دغورزنګ ترمنځ هم داسي څه نه لیدل کیږي چي ولس پري دداډاواطمینان ساه واخلي . که څه هم دهماهنګي د شورا اودطالبانو ترمنځ دنومبر په ۲۸ مه په اسلام آباد اوپیښور کي دراتلونکي سیاسي نظام اونظامي مشترکي جبهي دجوړولوپه هکله څه مواد لاسلیك شوي خودغه موادو اعلان تراوسه پوري ځنډیدلي او دطالبانو هیئت دموادودلاسلیك وروسته قندهارته تللي . دبلي خوانه دطالبانو دغورزنګ پوري مربوط ځیني کسانو په پکتیا کي دحزب اسلامي په سیمو کي څه تحرکات پیل کړل چي دي کارطبعاً حزب اسلامي اوشوراي هماهنګي کي څه اندیښني راپیداکړي . وګــډ پلان داعلان ځنډول دحزب اسلامي لخواوغندل شواوپیل شول چي ځیني خاصي حلقي غواړي دهماهنګي دشورا اوطالبانوترمنځ داتحاد دجوړیدت ترمنځ خنډونه راپیداکړي . حزب اسلامي په پکتیا کي دطالبانوپه تحرکاتو هم نرم اعتراض وکړ، اودغه ډول تحرکات ئي ددواړوتنظیمونو دراپوځاي کیدوپه لارکي دخنډونو دایجادولو باعث وګاڼه .

که څه هم ویل کیږي چي دطالبانو کوم هیئت همدا اوس پیښور او اسلام آباد ته راغلي ترڅوددهماهنګي دشورا سره یوځل بیاپخواني جریانات تعقیب کړي خوددغه وقتي ځخه چي نژدي یوه نیمه میاشت ئي ونیوله دکابل رژیم پوره ګټه واخسته . هغوي یوډول سیاسي ابتکار وکړ ،اودشهیدضیاء الحق پــه ځیرئي دګرکټ دپالیسي څخه کارواخست . په داسي حال کي چي دطالبانو اوهم آهنګي دشورا دنظامي ځواکونوسره په جګړي بوخت دي دهغوي په سیمرکي دځبرولو پاره دراتګ اعــلان هماغه دګرکټ دیپلوماسي حسابیږي .

طالبانو په دغه موده کي دبرڅه دلاسه ورکړل . هغوي ترپلچرخي پوري سیمي په ځپلواکي دړلودي، ګمان ئي داوچي کابل به بي له کوم سیاسي حلیف څخه ترتسلط لانــدي راوړي ، خوپه پلچرخي کــي ئي د ځپل قوماندان «ملامشر» دلاسه ورکولو هغه سیمه نه یواځي پریښوده بلکه دلوګر دمس عینك دسیمي پوري په شاوتښتېدل .

طالبانو دخپلي دغي ماتي بړه په حزب اسلامي باندي ، په دي ویره کي چي هسي نه چي دشاله طرفه به پري حمله وشي، ورواچوله . په داسي حال کي چي حزب اسلامي په دغي تولــه موده کي ددي انتظارکاوه چــي دهماهنګي دشورا اوطالبانوترمنځ دتعهدولاسلیك اواعلان سره سم په دواړه قواوي یودبل ترڅنګ خپل مخالفین ترحملي لاندي نیــسي ،دهغي پرته حزب اسلامي نه غوښتل چي په یوه بي نتیجي جنګ کي ورګډ شي . که چیري طالبانودهغي تعهداتو اعلان نه واي ځنډولاي نو حالات به اوس بدل وو .

ددي ترڅنګ دطالبانوراکټي حملو اوهوایي بمباریو هم دکابل دښاریانو اودعام ولس هغه امیدونه چي ددوي څخه ئي دامن اوسولي پــه خاطر درلودل دلاسه ورکړل او داتنظیم ئي هم دیوه جنګي تنظیم په ځیر دخپلو امیدونو پرخلاف بوتنظیم وګاڼه . ځکه دغه بمباري چي هره شپه اوورځ لس اوشل کــسان مړه اوزخمیان پریږدي یواځي ولس پري زوریږي . حاکمي ډلي ته ئي هیڅ زورنه ورځي . همداراز هغه مصیبت چي ددغه ولس دسرڅخه باید څه موده پخوالري کړل شوي واي اوس ورځ په ورځ نورهم دولس په سر درنیږي او ترڅنګ ئي طالبان هم دکابل دښار داحاطي څخه پوره لري تیبول شوي دي .

له بوي خواپه داسي حــال کي چي استادرباني د خبرواترو او د مخالفینو ځایوته د سفر کــولو نوي تاکتیکي ابتکارکړي اوهیئتونوئي په جلال آباد - سروبي اوهمداراز په بامیانو اومزارشریف کي دهماهنګي دعالي شورا دغړو

> دطالبانوراکټي حملو اوهوایي بمباریو هم دکابل دښاریانو اودعام ولس هغه امیدونه چي ددوي څخه ئي دامن اوسولي په خاطر درلودل دلاسه ورکړل او داتنظیم ئي هم دیوه جنګي تنظیم په ځیر دخپلو امیدونو پرخلاف یو تنظیم وګاڼه . ځکه دغه بمباري چي هره شپه اوورځ لس اوشل کسان مړه اوزخمیان پریږدي یواځي ولس پري زوریږي ، حاکمي ډلي ته ئي هیڅ زورنه ورځي

تنظیمونو سره دهیواد دبحران دحل په خاطر خبري اترې پیل کړي اودبل اړخه دطالبانودغورزنګ نیت اوعمل هم ورځ په ورځ راپه ډاګه کیږي اوداسي بریښي چي ددغه تحریك یوشمیر عناصرقصداً غواړي ددغه تحریك اودهماهنګي دشورا دغړو ترمنځ درانژدي کیدو پروسه شاته وغورزوي . دهماهنګي عالي شورا غړو تنظیمونو ته په کاردي چي دخبرو اترو دبیل ددغه فرصت څخه په محتاطانه توګه دېره ګټه پورته کړي . داصحیح ده چي داستادرباني حکومت اودولت ډېرو زیاتو اشتباهاتو مرتکب ګرځیدلي او دغه اشتباهات لاتراوسه پوري هم نري صورت نیسي . خو ددي ترڅنګ دجمعیت اسلامي جهادي تاریخ او ددغه تنظیم

احمدشاه مسعود

قرباني له یوه سره دیاده نه شو ویستلاي . داستاد رباني په دغه دري کلن تاریخ کي تول وخت ئي دحزب اسلامي دمجاهدینواودغه تنظیم دمجاهدقیادت په خلاف پــه جنګ جګړو اوسازشونوکي تیرکړي . خو په دغه تول وخت کي دجمعیت پوري اړوندوزیاتو قوماندانانو دخپل تنظیم دمسئولینو دپالیــسو سره اختلاف کړي اوپه دي هلکه ئي دحزب اسلامي دامارت مقام ته ئي خپلي نیکي هیلي ورسولي، خوړلته په جمعیت کي یواځي احمدشاه مسعود چي دنظارشورا مشري په غاړه لري په دغه تربوروالي کي زیات رول لوبولي اواوس هم دااختلاف اساسي عامل هم همدغه شخصیت ګڼل کیږي . کیداي شي چي ښاغلي مسعو هم اوس داحقیقت درك کړي وي چي په یواځي توګه دحکومت کول ورته اسان کارنه دي دبله اړخه هغه به اوس داهم درك کړي وي چي په اقتدارکي پاته کیدل خوبوطرف امادمخالفینودنظامي بري په صورت کي ئي د تنظیم بقاهم په خطرکي لویږي په دي اساس ښاغلي مسعود هم باید دحالاتو دحساسیت احساس کړي وي اودموقع اوفرصت نــه په استفادي سره دخبرواتروددغه پروسي وړاندیزته عملي بڼه ورکړي اودخپلو مخالفینو اعتماد ترلاسه کړي . داحمدشاه مسعود مخلصانه قدم اود اپوزیسیون سره دحسن نیت په خاطرپه یوه داسي دقبول وړفارمول باندي اتفاق کول چي پخپله جمعیت هم په کي یوعزتمند ځاي ولري، هیواد دتل له پاره دجنګ داوردلیو څخه محفوظ ساتي، همداراز دهماهنګي دشورا اوحزب اسلامي افغانستان قیادت هم د موقع اوفرصت اودمقابل لوري دمجبوریت نه په استفادي سره دومره سخت شرایط په مقابل لوري کښیږدي چي هغوي ئي دپوره کولو څخه ځان عاجز وګني اوخپل ضدته (دجنګ دتداوم په شکل کي) دوام ورکړي په سیاست کي «دراکړي ورکړي » دروازي تل پرانستي پریښودل په کاروي، نوکه لږڅه تنزل ددواړو اړخونوڅخه صورت ونیــسي اودبحران دحل له پاره دخبرواترو دمیزترڅاسره «دراکړي ورکړي »په فارمول عمل وشي نودخیرتوقع به ئي ډېره زیاته دي .

کیداي شي حزب اسلامي په دي هکله داروائي چي دمذاکراتوپه دوران کي تل مودبحران دحل اودهیواد اوولس دپراخه ګټوپه خاطرمرجمعیت اسلامي ته هغه څه چي ئي غوښتي ورکړي اوپه دي هکله داستادرباني ۱۸ میاشتني دجمهوري ریاست دوره مثال راوړي . او ووائي چي په دغه دوره کي یواځي حزب اسلامي وچي داستاد لپاره ئي د۱۸ میاشتي جمهوري ریاســت ددوري دتمدید په خاطر دهــماهنګي د شــورا اونورو تنظیمونو دقناعت له پاره په اسلام آباد کي هلي ځلي کړي اوبرعکس داجمعیت دافرادو بدګماني وه چي نه ئي دحزب له اړخه تاکل شوي . صدراعظم ته دکاردفرصت ورکولو وخت ورکړ اونه ئي دحزب اسلامي لخواټاکل شوو وزیرانو، رئیسانو اومامورینو ته دکابل په ښارکي خوندي ځاي ورکړ . په هرصورت ممکن دحزب اسلامي سره به داسي دیرزیات مثالونه وي اوهمداراز دهماهنګي دشورا غړي تنظیمونه به هم همداډول شکایات ولري .

داشکایتونه په ځپل ځاي ، خواوس دموضوع اساسي دحل له پاره یواساسي قدم اخستلوته اړتیاده، که څه هم په دغه قدم کي دملت دپراخــه ګټوپه خاطر تنظیمي ګټي یوڅه د پښو لاندي کړل شي.

دطالبانوغورزنګ چي بخواني په لږه موده کي ډېري زیاتي سیمي یوپه بل پسي دمقاومت پرته اویا دلږ څه مقاومت ورو-ته ونیولي او دولس په احساساتو سپور دهغوي دامیدونو مرکزګڼل کیده کابل ته په رارسیدو دهغه څه سره مخ شول چي هغوي ئي تصورهم نه شوکولاي .

استاد کریم خلیلي

اواوس ئي په ستراتیژي کي طبعاً پوره تغیرات راغلي . دبله اړخه طالبانو که دهیواد دبحران دحل په خاطر دجهادي تنظیمونو په مقابل کي په خپله روانه پالیسي کي پوره تغیرات رانه وړي نودا به ورته ډېره ګرانه وي چي دیوه نظامي غښتلي تنظیم په ځیر دي خپله بقاتر ډېره وخته پوري وساتلاي شي . همداراز دهغوي (دطالبانو) تمویلونکي سرچیني هم ممکن تریوه ټاکلي وخته پوري دهغوي دتمویل په خاطر څه ناڅه تعاون ونه وکړي خوتر ډېره وخته پوري به داورته ګرانه تمامه شي . او لکــه دخپتي نورو جهادي تنظیمونو په څیر به دوي هم دخپلي بقا تضمین له لاسه ورکړي .

په دي اساس توقع داده چي طالبان به هم ددغه فرصت نه په استفادي سره خپل

> طالبانو که دهیواد دبحران دحل په خاطر د جهادي تنظیمونو په مقابل کي په خپله روانه پالیسي کي پوره تغیبرات رانه وړي نودا به ورته ډېره ګرانه وي چي دیوه نظامي غښتلي تنظیم په ځیر دي خپله بقا تــر ډېره وخته پوري وساتلاي شي.

ځانونه دجهادي تنظیمونو سره رانژدي کړي‌ودېټولو سره دي دتفاهم لارخپله کړي ترڅــو دتفــاهم ، مذاکراتو اوبیوبل داعتماد لـــه لاري دهیواد دبحران دیښتیزحل په لور اساسي قدمونه پورته کړل شي .

(٤)مخ

بکنم ده غم بمانم، نکنم چطورکنم

طنزهفته

بقلم بیسواد

زن گفت :

- اومردکه .... هوشت باشه که مه دیگه کتي [illegible] ده یك خانه زندگي کرده نمیتانم ...

آغابادارگفت :

- حالي خیره ... پشت گپ هاي کهنه وقدیم نگرد ... هرچي بود فراموش کو .... [illegible]

- مه [illegible] ... مه خودیگه نوکرشتان که بیست وچهارساعت [illegible]

آغابادارگفت :

- حالي اوزنکه روي خدا ره ببین ... [illegible] یك معاش اس، همه اش [illegible] ... جان سگ میکنم که یك چاررویه ، خرج خانه پیداکتم ... خوهنوز پیسه معاش جیب مره بوي نمي کنه . که خودت ده صدر میري، لیسرین ،ریل ، رنگ ناخن، کالا و بــوت میخري ...

زن گفت :

- مه دیگه نمي قامم .... مه مه ازدست خسران ناخسران خود ده بیني رسیدیم ... مه ده اي خانه دیگه کارکده نمیتانم ... مه دیگه طاقت دیدن ننوهاي جنگره خوده ندارم ...

- اوزنکه ... میگم دهان مردارته بسته کو که بازایطور روزه نشانت بتم که ده عمرت ندیده باشي .

زن بابي حیابي گفت :

- تومره مي ترساني ... مره هم شیرین خالدارمیگن ... بخداایطور کارکنم ... که دیگه تــام مردي ره نگیري ...

آغابادار که رگ اوغانیش طورخورده بود . ده جان زن خیست وبزن بزن شروع شد ... سرو کله و پایشه کبود وزخمي ساخته ومیگفت :

- توبه بکش ... اگه ني سرته زیر بالت میکنم ... اینجه خو اروپانیس که زنهاي اوغان سرازچته کشیدن، هرروز یکي طلاق میگیره ، ویکي طــلاق میته ....

* زن کــه مثل مارزخمي بخودمي پیچید، درین ناله وزاري خود میگفت :

- طلاق مره بتي ... مه دیگه کتي تو مردکه چطور وچکارزندگي نمي کنم ... اگه طلاق نمیتي ... یکي مره بکش ... مه خو ازگپ خوددست وردارنیستم ...

جنگ ورسوایي آغابادار وشیرین خالدار به کوچه وبازار کشید . ازهمانروز به بعد شیرین خالدار دوبچه گلک خوده گرفته ،وختي آغابادار سروظیفه وکارمیرفت اوهم بیرون میرفت ....

هرچه خشروخسر وابورها به آغابادار شکایت میکردن .... اوبیچاره ازخاطرازیکه زیادتررسواتشوه ، چپ خوده میگرفت .

مردم درمورد شیرین خالدارگپها میزدند ، خوگپ به رسوایي کشیده بود .

یکروز آغابادار ره پت وپریشان ده بازار دیدم ... پرسان کدم :

- خیریت خواس ... هیچ درك اث معلوم نیس .

- گفت : پرسان نکو ... بکنم ده غم بمانم ... نکنم چطورکنم .....؟

پرسیدم :

- چي ره میگي آغابادار ...؟

- ازدست اي زنکه ده بیني رسیدیم ... اگه بزنُش ده غم بمانم .... اگه نزنُش بي حیایي اش ده کل شهربرآمده ... هرروزصبح ازخانه بیرون میره ... شام پس میآید ... معلوم هم نیس که کجامیره .... حیران ماندیم که چطورکنم ...

یك هفته بعد شیرین خالدارهمراي اولاد هاي خود گم شد .... آغابادار وارخطا گاهي ده یك خانه ،گاهي ده دیگه خانه ... آخر خانه خسرخود رفت که پرسان کند ... وختي خسرش ازغیابت دخترخود فهمید، بخن آغابادار ره محکم گرفته گفت :

- بیاو ... دخترمره پیدا کو .... والله اگه یافمت ... خون دخترمه ازتومیگیرم .

- اوداگل ... بخدا اگه مه خبرباشم ... خود دخترت هرروز صبح بیرون میرفت شام پس میآید ....

جنگ خسر وداماد به دعواکشید ... یکماه بعدگپ شان درمحکمه برآمد ....

یکروز که آغابادار غرق درجنجال هاي خود بود ، پسته رسان نامه را آورد. درنامه نوشته بود :

ازطرف شیرین بري آغابادارشوي نامردم

تومره گفته بودي که توبه بکش اگه ني ایطورروزه نشان بتمت که ده عمرت ندیده باشي ....

مره هم شیرین خالداره میگن ... رفتم ده دفترهاي خارجي ها ده پشاور گفتم مره شویم میکشه ، جانمه زده وزخمي کده ، اولاد هایه میکشه ، اعصاب خوده ازدست داده ، مه کس وکوي ندارم . ازهمه چیزها بدم میآید ... نه افغانستان ره خوش دارم ... نه رسم ورواج هایشه . مره یك زنکه گفت که اگه عیسوي میشي ،مه تره امریکا روان میکنم ....

مام رفتم عیسوي شد ... کتي اولاد هایم اینه حالي ده امریکا چکرمیزنم که بري تو ایطور روزه نشان بتم که ده عمرت ندیده باشي زورت ده کمرت ، ازطرف شیرین

آغابادار که ازنامهٔ شیرین هیجاني شده بود ، ازخانه بیرون رفته پیهم میگفت بکنم ده غم بمانم ،نکنم چطورکنم

تول کائنات او مخلوق د ...

دځمکي په ګیډه کي چي آتش فشان ، ډیری ګرمې مادې او ګازونه موجود دی نوله غرونونه پرته ځمکي نشوه کولی چي خپله سطحه یوډول برحاله وساتی داخبره په قران کریم کی داسي بیان شوی :

ژباړه : ایا موږ ځمکه هواره اوغرونه مو میخونه نه دي ګرځولي ؟ النبا ٦-٧

همداراز په بل ځای کی فرمایلی دي :

ژباړه : موږ پرځمکه دغرونو میخونه ښخ کړي چي تاسي ونه خوروی . لقمان ؛

*

قرآن کریم او فهم دالله تعالی له نبوته یوه نښه ګرځولی ده .

ژباړه : ایا تاسی هغه مواورلیدلی دی چي ګرمیږی ورباندی؟ ایا تاسی دهغه ونه پیداکړی یاموږ دهغه پیداګوونکی یو ؟ (الواقعه (٧١ -٧٢)

، هوا ، اوبه اودځمکي دنورو نعمتونو په شان اور هم دانساني ژوند له پاره ډېر ضروری څیز دی باید پدی خبره غوروشی چی دا تول څیزونه چا پیدا کړیدی ایا په خپله منځ ته راغلی ؟ آیا انسان پیدا کړی ؟ ایا دهغو انتظام انسان کوی ؟ که په انسان کی سالم عقل وی نو خامخا به وای چی داهرڅه الله تعالی پخپل قدرت پیداکړیدي اوانتظام یي هم همغه قدیر اوبصیرخدای کوی .

####

نصیبه څه درسره وکړم ؟!

پردی لاسونه

مغموم

په موږکي دپردیولاس دي . دازموږ دهرهېر خــبره ده ، بوازي زموږ درهبرانونه بلکي زمــوږ دملت اوهېواد ددوستانوخبره هم ده زموږ ملت که دښمنان لري نبه دوستان هم لري، داسي دوستان چي زموږ غم اوښادي خپل غم اوښادي بولي، همدغه لامل دي چي له موږنه ددوست اودښمن دلاس ،توپیرورك دي زموږ دوستان هم په دي باوردي چي په افغان ربره کي بهرني لاسوهنه ده اوددي هم لاس په کاردي چي دغه مرموز اوپټ بهرني لاس افشا کړي. علاوالدین بروجردي صاحب دایران دبهرنیو چارو دوزارت مرستیال هسي بوه تذکره ایراني لري نورخوداسي ښکاري چي افغان دي ځکه ناسته پاسته ، مشوره ، تگ راتگ اوځم اوهم ني ټول زموږسره دي ... هغــي زموږ بل گاونډي پاکستان درواخله چي په درجن درجن خلك ني زموږ په ربره کي سرگران اووقف دي .

زموږددوستانوپه لړکي دامریکا دبهرنیوچارو وزارت مرستیاله میرمن رابن رافل هم ده چي وخت په وخت زموږ دجوړناجوړاحوال اخلي . داټــول زموږ دوستان دي هغــوي هم په موږخوږدي اوزموږپه دردونو دردمن !

زموږددي ټولودوستانوباوردي چي په افغان اولس کي بهرني لاسونه دي، دادهغوي شوم اغراض اواهداف دي چي افغانان دجگړو په اورکي سوځي اواصلاً افغانان د بهرنیــو رقابتونو حسادتونو اوسازشونو دجنگ ښکار شوي دي .

زموږ دغه دوستان دي ژوندي وي زمونه مو پري تکیه دي اوتسلي راکوي که نه نو افغان اولس خــو بــه اوس دبهرنیولاسونوله لاسه په ابرواوسکرویدل ؤ

هسي خوکه رښتیا سره ووایونوپه وطن کي خوځه پاتي نه دي خو که زموږ دغه دوستان اوددوي برکتونه ، نیکي مشوري ، مرستي اوموږته ددوي لازمي اوجوړوونکي لارښوونې نــه واي نن به افغانستان نه و، دوي دومره زموږ مخلصان دي، چي زموږ ټولي چاري غواړي دوي پــه لاس کي واخلي او موږ کرار کښینو چــي دتیرو اتلس ،شلوکالو ستوماني وباسو . تاسو داخلاص اومحبت معیارته وگوري ، بروجردي صاحب لگیادي دادري ځلورمیاشتي زموږپه هغه وطن کي کنهواله په کنهواله سترې دي چي زموږرهبران هلته پوځل ورتگ خپل صحت اومزاج ته خطربولي ... دي په دېراخلاص لگیادي دبامیانو، مزار، کابل اوجلال آباد دوري کوي .

اوپه پوره باوروبلي شم چي ټول خرڅ اوخوراك ني پرځان دي خپل خرڅ ني پرېږده ویل کېږي چي پــه زیاترو لیدنوکتنوکي زموږ یو شمیر مستحقو مشرانوا ته سوغاتونه هم راوړي، اوددوي جیب خرڅ هم دده په غاړه دي آخرهغه دېره مهم وزارت مرستیال دي، کاربه لري .

اوخامخا به ني لري، دهغه رسمي مسئولیت دآسیا اواقیانوسیه هیوادونوپه چاروکي دي خو ده نورټول شاته کړي دي اویوازي زموږهیوادته ني ځان وقف کړي دي هغه سترې دي، ډیر سترې دي ترڅوافغانان خپل دښمن و پیژني ترافغانانو زیات سرگردانه اوزموږ ترمسئولینوزیات زموږ په مسئله کي بوخت دي، ځکه چي زموږ په چاروکي بهرني مداخله ده پردي لاسونه دي غواړي راوبي ښیي اوافغان اولس دخپلوتاریخي غلیمانوله شره خلاص شي .

میرمن رابن رافل هم همدغسي درواخله هغه هم افغانان دځان گڼي یعني خپل هیاووجودني گڼي ، ځکه خووخت په وخت دلندن له سمــوري نري نه زموږ دجگړو، بدمرغیواوهرراز رنځونونه ډکي خاوري ته تشریف راوړي حوصلي موښایي اودښه راتلونکي زیري راکوي .

که له انصاف نه کارواخلواوپه حقایقو اعــتراف کــوو نو دېرنور دوستان به موسترگوته ودریږي چي نن ني له مصلحت نوم زموږپه خوله نشي راتلاي که څه هم ددوي ددوستي دین موږ په دي مجبورودي چي ټول مصلحتونه شاته کړو اوددوي داحسان شکراداکړو خو ....

که زموږ په خوله ددوي نوم راشي که نه ، که موږي وسه قلمونه پري وچلیږي که نه دوي خپل ځان ملیبي ځکه زموږ دوطن په هره لوته ، خښته اوډبره ني ددوستي ، خلــوص اومرستونخښي ثبت دي ...

اشاره مي همغو دافغان اولس دایمي دوستانوته ده چي بووخت ني ټانگونه اوتوپکونه رالیږل اونن نوټونه، ځکه دوخت تقاضا داسي ده هوکي هغوي هم زموږښه دوستان دي. نوم ني نه اخلم خوبه دوستي ني اعتراف په کاردي اوکه نن ددوي دبې حسابه نوټونو نه دوکوکانټینرونو خبراتونه نه واي نباي زموږپه وطن کي دوزېږو هدیري جوړي واي ....

بس که افغانان لړ اوډېر ژوندي دي اوپا دژوندیو پېښي او تقلیدکوي ، نوم ني یادېږي دهمدغه دوستانو برکت دي، اودهمدي دوســتانو هرباني ده چي لامرموزبهرني لاســونه ا په دي نه دي بربالي شوي چي خپل شوم اغراض ترسره کړي اوخپلو وروستیو اهدافوته ورسیږي .

کیداي شي له چاسره څه مغرضانه شکونه اوسوالونه پیداشي چي دوي هم بهرني دي آیا همدوي زموږ دستونزو اوبدمرغیو اصلي عوامل نه دي ؟!

آیاهغه بهرني لاسونه همدغه لاسونه نه دي چي په بوه اوبل نامه بوه اوبل په لاسوکي دي اودلوبي اصلي ستاربو جوړوي .

خوزه وایم توبه له داسي شك اوکاږه خیاله ،آخردوي څه مجبوریت لري، له کنډواله افغانستان نه به څه په لاس ورځي چي نیتونه ورته کاږه کړي ؟!

افغانان غیرتي خلك دي، محسن ته ددښمني په سترگه نه گوري اونه احسان فراموشي کوي . موږ به خپل دغه دوستان هیڅکله هم له دوستانو پرته بل څه ونه بولو اونه به بې نیکي اوستوماني هیري کړو، اودهمدوي په مرسته به که ژوندي وو پردي لاسونه اودغمازانو څېري پیژنو.

خواره ترخه

یادیگاره

ذبیح الله شرر

کله چي حضرت علي کرم الله وجهه خلیفه شو نوبو څوصحابهٔ کرام رضي الله عنهم ورسره دامنیت په خاطر ملگري شول، سیدناعلي (رض) ورته مخ راواړوه چي تاسي له ماسره څه کوي؟ هغوي وویل چي موږ ستادساتني اوامنیت په خاطر درسره ملگري شوي یو،ځکه چي ته اوس دمسلمانانو خلیفه ئي او ډیر خطروته درته متوجه دي . علي (رض) ورته وویل چي کله مي اجل راشي نوایا تاسي مي تري خلاصولي شي ؟ هغوي وویل نه ،دغه کارخو کولي نه شو. نوامیرالمومنین ورته ځواب ورکړ چي « فلاحاجة لي بکم » نوتاسي ته زماهیڅ اړتیانشته .

